د پوهنې وزارت

د رسامۍ هنر

شپږم ټولګی



Ketabton.com

د چاپ کال: ۱۳۹۷ هـ ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملي سرود

دا وطن افغانستان دی
دا عزت د هر افغان دی

کور د سولې کور د تورې
هر بچی یې قهرمان دی

دا وطن د ټولو کور دی
د بلوڅو د ازبکو

د پښتون او هزاره وو
د ترکمنو د تاجکو

ورسره عرب، گوجر دي
پامیریان، نورستانیان

براهوي دي، قزلباش دي
هم ایماق، هم پشه یان

دا هېواد به تل ځلیږي
لکه لمر پر شنه آسمان

په سینه کې د آسیا به
لکه زړه وي جاویدان

نوم د حق مو دی رهبر
وایو الله اکبر وایو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم



د پوهنې وزارت

د رسامۍ هنر

شپږم ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۹۷ هـ.ش.



(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب ځانګړتیاوې

مضمون: د رسامۍ هنر

مؤلفین: د تعلیمي نصاب د هنر برخې د درسي کتابونو مؤلفین

اډیټ کوونکي: د پښتو ژبې د اډیټ دیپارتمنټ غړي

ټولګی: شپږم

د متن ژبه: پښتو

انکشاف ورکوونکی: د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف لوی ریاست

خپروونکی: د پوهنې وزارت د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست

د چاپ کال: ۱۳۹۷ هجري شمسي

د چاپ ځای: کابل

چاپخونه: بهیر مطبعه

بریښنالیک پته: curriculum@moe.gov.af

د درسي کتابونو د چاپ، وېش او پلورلو حق د افغانستان اسلامي جمهوریت د پوهنې وزارت سره محفوظ دی. په بازار کې یې پلورل او پېرودل منع دي. له سرغړوونکو سره قانوني چلندکیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوهنې د وزیر پیغام

اقرأ باسم ربک

د لوی او ښونکي خدای ﷻ شکر په ځای کوو، چې موږ ته يې ژوند رابښلی، او د لوست او لیک له نعمت څخه يې برخمن کړي يو، او د الله تعالی پر وروستي پیغمبر محمد مصطفی ﷺ چې الهي لومړنی پیغام ورته (لوستل) و، درود وایو.

څرنګه چې ټولو ته ښکاره ده ۱۳۹۷ هجري لمریز کال د پوهنې د کال په نامه ونومول شو، له دې امله به د ګران هېواد ښوونیز نظام، د ژورو بدلونونو شاهد وي. ښوونکی، زده‌کوونکی، کتاب، ښوونځی، اداره او د والدینو شوراګانې د هېواد د پوهنیز نظام شپږګوني بنسټیز عناصر بلل کیږي، چې د هېواد د ښوونې او روزنې په پراختیا او پرمختیا کې مهم رول لري. په داسې مهم وخت کې د افغانستان د پوهنې وزارت د مشرتابه مقام، د هېواد په ښوونیز نظام کې د ودې او پراختیا په لور بنسټیزو بدلونونو ته ژمن دی.

له همدې امله د ښوونیز نصاب اصلاح او پراختیا، د پوهنې وزارت له مهمو لومړیتوبونو څخه دي. همدارنګه په ښوونځیو، مدرسو او ټولو دولتي او خصوصي ښوونیزو تأسیساتو کې، د درسي کتابونو محتوا، کیفیت او توزیع ته پاملرنه د پوهنې وزارت د چارو په سر کې ځای لري. موږ په دې باور یو، چې د باکیفیته درسي کتابونو له شتون پرته، د ښوونې او روزنې اساسي اهدافو ته رسېدلی نشو.

پورتنیو موخو ته د رسېدو او د اغېزناک ښوونیز نظام د رامنځته کولو لپاره، د راتلونکي نسل د روزونکو په توګه، د هېواد له ټولو زړه سواندو ښوونکو، استادانو او مسلکي مدیرانو څخه په درناوي هیله کوم، چې د هېواد بچیانو ته دې د درسي کتابونو په تدریس، او د محتوا په لېږدولو کې، هیڅ ډول هڅه او هاند ونه سپموي، او د یوه فعال او په دیني، ملي او انتقادي تفکر سمبال نسل په روزنه کې، زیار او کوښښ وکړي. هره ورځ د ژمنې په نوي کولو او د مسؤولیت په درک سره، په دې نیت لوست پیل کړي، چې د نن ورځې ګران زده‌کوونکي به سبا د یوه پرمختللي افغانستان معماران، او د ټولنې متمدن او ګټور اوسېدونکي وي.

همدا راز له خوږو زده کوونکو څخه، چې د هېواد ارزښتناکه پانګه ده، غوښتنه لرم، څو له هر فرصت څخه ګټه پورته کړي، او د زده کړې په پروسه کې د ځیرکو او فعالو ګډونوالو په توګه، او ښوونکو ته په درناوي سره، له تدریس څخه ښه او اغېزناکه استفاده وکړي.

په پای کې د ښوونې او روزنې له ټولو پوهانو او د ښوونیز نصاب له مسلکي همکارانو څخه، چې د دې کتاب په لیکلو او چمتو کولو کې يې نه سترې کېدونکې هلې ځلې کړې دي، مننه کوم، او د لوی خدای ﷻ له دربار څخه دوی ته په دې سپیڅلې او انسان جوړوونکې هڅې کې بریا غواړم.

د معیاري او پرمختللي ښوونیز نظام او د داسې ودان افغانستان په هیله چې وګړي ېې خپلواک، پوه او سوکاله وي.

د پوهنې وزیر

دکتور محمد میرویس بلخي

(c) ketabton.com: The Digital Library

فهرست

د لوست شمېره	سرليک	مخ
۱	د منې او ناک رسمول	۱
۲	د منې او ناک رنګول	۳
۳	د لاسي کار جوړول	۵
٤	د سبو رسمول	۷
۵	د سبو رنګول	۹
٦	د وني رنګول	۱۱
۷	د الوتونکو رسمول	۱۳
۸	د طوطي رنګول	۱۵
۹	د افغاني جامو رسمول	۱۷
۱۰	د آس د پښو د حرکتونو رسمول	۱۹
۱۱	د حشرو رسمول	۲۱
۱۲	د ګلونو رنګول	۲۳
۱۳	د خیالي منظرو رسمول	۲۵

(c) ketabton.com: The Digital Library


د لوست شمېره	سرليک	مخ
١٤	د کاغذي لاسي کارونو جوړول	٢٧
١٥	د ونو رسمول	٢٩
١٦	د هندسي شکلونو رسمول	٣١
١٧	د تخنيکي او هندسي شکلونو رسمول	٣٣
١٨	د نوښتګرو شکلونو يا انځورونو جوړول	٣٥
١٩	د پاڼو په واسطه د يوه نوښتګر انځور جوړول	٣٧
٢٠	له رنګ څخه د نوښتګر انځور جوړول	٣٩
٢١	د پاڼو ټاپه کاري	٤١
٢٢	د ډيزاينونو رسمول	٤٣
٢٣	د لاسي کارونو جوړول	٤٥
٢٤	د نوښتګر شکل جوړول	٤٧
٢٥	د کور د لوښو رسمول	٤٩
٢٦	د کور د لوښو رنګول	٥١
٢٧	د تاريخي آثارو رسمول	٥٣
٢٨	د تاريخي ودانيو رنګول	٥٥
٢٩	لاسي کارونو جوړول	٥٧
٣٠	د تاريخي آثارو رنګول	٥٩
٣١	دويمه برخه، د ښوونکي لارښود	٦١

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوست ۱ د منې او ناک رسمول

موخه: پر پنسل د رسمولو له طريقې سره د زده کوونکو بلدتيا، د خارجي او داخلي خطونو په پام کې نيولو سره د منې او ناک رسمول.


پوښتنې:
- منه او ناک کوم رنګونه لري؟
- په لاندې انځور کې څه شی وينئ؟



دويم انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیت: زده کوونکي دې لومړی پوښتنو ته ځوابونه ووایي او بیا دې داخلي او خارجي خطونه په پام کې ونیسي، له خفیف څخه د تیاره په لور دې خپل کار ته دوام ورکړي او بیا دې په ساده پردازونو بشپړ کړي.



لومړی انځور

کورنۍ دنده



زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې منه او ناک په پنسل رسم کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوست ۲ د مڼې او ناک رنګول

موخه

د مڼې او نـــاک له رنـــګـــولو سره د زده کوونکو بلدتیا.

پوښتنې: د مڼې او ناک په رنګولو کې له کومو رنګونو څخه کار اخیستل کیږي؟




دویم انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیت

زده کوونکي دې د کاغذ پر مخ منه او ناک له لاندې شکل سره سم رسم کړي او بیا دې رنګ کړي.



لومړی انځور

کورنۍ دنده



په کور کې د منې او ناک رنګول بشپړ کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ لوست
د لاسي کار جوړول

موخه: له سیمه ییزو موادو څخه د منې او ناک د لاسي کار له جوړولو سره د زده کوونکو بلدتیا.

پوښتنې: • د لاسي کار د جوړولو لپاره کومو موادو ته اړتیا ده؟
• څه ډول لاسي کار مو خوښیږي؟



دریم انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیت

زده کوونکي دې لاندې انځور ته په پاملرنې په خپله خوښه په کور او ټولګي کې لاسي کارونه جوړ کړي.



لومړی انځور



دویم انځور

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې له ساده سیمه ییزو توکو، لکه ګل، کاغذ او نورو څخه لاسي کارونه جوړ او ټولګي ته دې راوړي.


(c) ketabton.com: The Digital Library

لوست ٤ د سبو رسمول

موخه

دسبو رسمولو له طريقې سره د زده کوونکو بلدتيا.

پوښتنې:
- د خطونو په واسطه د سبو رسمولو او د هغو د کارونې د لارو چارو په اړوند څه ويلای شئ؟
- آيا تاسې پوهيږئ چې په لاندې انځور کې څو ډوله سابه شته؟




دويم انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیت

زده کوونکی دې لومړی سابه د خطونو په واسطه پر پنسل رسم، وروسته دې بشپړ او خپل کارونه دې د نندارې لپاره ټولګیوالو ته وړاندې کړي.



لومړی انځور

کورنۍ دنده



سابه د کتاب له مخې په کتابچو کې پر پنسل رسم کړئ.


(c) ketabton.com: The Digital Library

لوست ۵ د سبو رنګول

موخه

د سبو له رسمولو او رنګولو سره د زده کوونکو بلدتیا.


پوښتنه: کله مو سابه رسم او رنګ کړي دي؟



دویم انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیت: لاندې شکل له خپلې خوښې سره ترتیب او سکیچ کړئ، هڅه دې وشي چې رنګونه په مناسبو ځایونو کې وکارول شي، د ضرورت پر وخت له ښوونکي څخه مرسته وغواړئ.



لومړی انځور

کورنۍ دنده



زده کوونکي دې له خپلې خوښې سره سابه رسم او رنګه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

٦ لوست
د ونې رنګول

موخه

زده کوونکي به د ونې په رسمولو او رنګولو و پوهيږي.

پوښتنې:
- آيا کله مو کومه ونه رسم او رنګ کړې ده؟
- کله مو په طبيعت کې د رنګونو په اړه فکر کړی دی؟




دريم انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیت

زده کوونکي دې په کتاب کې د رسم د پړاوونو په پام کې نیولو سره یوه ونه پر نریو خطونو رسم، وروسته دې رنګ کړي.



لومړی انځور



دویم انځور

کورنۍ دنده



زده کوونکي دې له خپلې خوښې سره سم یوه ونه رسم او رنګ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوست ۷ د الوتونکو رسمول

موخه
د الوتونکو له انځورولو سره د زده کوونکو بلدتیا.

پوښتنې : • کله مو الوتونکي له نژدې لیدلي او رسم کړي دي؟
• د الوتونکو په رسمولو کې له کومو وسایلو ګټه اخلئ؟




دریم انځور


(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیت

د الوتونکو انځورونه د درسي کتاب له مخې پړاو په پړاو رسم او په خپله خوښه يې سم پرداز کړئ.



لومړی انځور



دويم انځور

کورنۍ دنده



يو الوتونکی په خپله کتابچه کې رسم او ټولګي ته يې راوړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوست ۸ د طوطي رنګول

موخه: د الوتونکو د رنګونو د ترکیب او د خطونو په واسطه د رسمولو له طریقې سره د زده کوونکو بلدتیا.

پوښتنې: • دلاندېنیو انځورونو د رنګونو د ترکیب په اړه معلومات راکولای شئ؟
• د انځورونو له رنګولو څخه څه احساس کوئ؟




دویم انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیت

زده کوونکي دې لاندېنیو انځورونو ته په ځیر وګوري، بیا دې سکیچ او په نریو خطونو رسم او رنګ کړي.



لومړی انځور

کورنۍ دنده



پورتني شکلونه په خپلو کتابچو کې رسم او بیا یې رنګ کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوست ۹ د افغاني جامو رسمول

موخه: د افغانستان له دودونو، کلتور او له افغاني جامو سره د زده کوونکو بلدتیا.

پوښتنې : آیا تاسو له افغاني جامو سره بلدتیا لرئ او کله مو رسم کړې دي؟



دویم انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیت

زده کوونکي دې د ښوونکي د لارښوونو په پام کې نیولو سره په منظم ډول لاندې انځور رسم، بیا دې رنګ کړي.



لومړی انځور

کورنۍ دنده



زده کوونکي دې د درسي کتاب له انځورونو سره سم افغاني جامې رسم او بیا دې رنګ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوست ۱۰ د آس د پښو د حرکتونو رسمول

موخه: له بیلا بیلو زاویو څخه په ډول ډول خطونو د آس د پښو د رسمولو له طریقې سره د زده کوونکو بلدتیا.


پوښتنې:
- کله مو د آس پښې رسم کړې دي؟
- په لاندې انځور کې څو پښې لیدل کیږي؟




دریم انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیت: زده کوونکي دې لاندې انځور او د هغه د پړاوونو په پام کې نیولو سره د آس پښې رسم، بیا دې په نرم پنسل سره پرداز کړي، په ځینو بر خو کې دې له ښوونکي څخه مرسته وغواړي.



لومړی انځور



دویم انځور

کورنۍ دنده




له خپلې خوښې سره سم د آس پښې په کتابچو کې رسم کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوست ۱۱ د حشرو رسمول

موخه: د خطونو په واسطه د حشرو له رسمولو او رنګولو سره د زده کوونکو بلدتیا.

پوښتنې: • کله مو حشرې رسم او رنګ کړې دي؟
• په لاندې انځور کې څو ډوله حشرې وینئ؟



دریم انځور


(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیت

د حشرو په اړوند له ښوونکي معلومات حاصل کړئ، له لاندې انځور سره يې سم بشپړ او رنګ کړئ.



لومړی انځور



دويم انځور

کورنۍ دنده



زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې يوه حشره پر پنسل رسم کړي.


(c) ketabton.com: The Digital Library

لوست ۱۲ د گل رنگول

موخه

زده کوونکي به د ډول ډول ګلانو له رنګولو سره بلدتیا پیدا کړي.

پوښتنې:
- کوم ډول ګل مو تر اوسه رسم او رنګ کړی دی؟
- په لاندې انځور کې کوم ګل وینئ؟



دریم انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیت

هر زده کوونکی چې د ګل له هر ډول رنګ سره مینه لري، پړاو پر پړاو دې رسم او له خپلې خوښې سره سم دې رنګ کړي.



لومړی انځور



دویم انځور

کورنۍ دنده



د کتاب د رسم له مخې یو ګل په خپله خوښه په کتابچو کې رسم کړئ او په بله ورځ یې ټولګي ته راوړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۳ څېړنه

د خيالي منظرو رسمول

موخه: د خيالي منظرې له رسمولو سره د زده کوونکو بلدتيا، زده کوونکي به وکولای شي څه يې چې په فکر کې ګرځي، هغه د کاغذ پر مخ رسم کړي.

پوښتنې:
- آيا د طبيعت د رنګونو په اړوند مو فکر کړی او په اړه يې څه ويلای شئ؟
- کله مو له خپل فکر او تصور څخه کوم شکل رسم او رنګ کړی دی؟



دريم انځور


(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیت

د لیدنو کتنو له مخې په هر څه چې پوهیږئ، د پړاوونو په پام کې نیولو سره لاندې انځور رسم او بیایې رنګ کړئ.



لومړی انځور



دویم انځور

کورنۍ دنده




د خپلو پخوانیو لیدنو کتنو په اړوند فکر وکړئ او څه چې مو په فکر کې راځي، رسم یې کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليسن ۱۴ د کاغذي لاسي کار جوړول

موخه: له کاغذ څخه د الوتونکو د لاسي کار په اړوند د زده کوونکو وړتياوو ته پراختيا ورکول.

پوښتنې: • د لاسي کار له جوړيدو څخه وروسته څه احساس درته پيداکيږي؟
• له کومو موادو څخه لاسي کار جوړ يدلای شي؟




نهم انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیت

زده کوونکي دې له لاندې شکلونو څخه لاسي کار جوړ او د جوړولو پر وخت دې له ښوونکي څخه مرسته وغواړي.



کورنۍ دنده



د خپل مور او پلارپه مشوره له کاغذ څخه لاسي کار جوړ کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوست ۱۵ د ونو رسمول

موخه

د ساده طبيعي انځورونو له رسمولو سره د زده کوونکو بلدتيا.


پوښتنې:
- کله مو په طبيعت کې يوه ښکلې ونه رسم کړې ده؟
- په لاندې انځور کې څه وينئ؟



دريم انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیت: زده کوونکي دې له ټولګي څخه د باندې اړوند فعالیت ترسره کړي، په مرحله يي ډول دې د ونې پر رسمولو سر بيره،د خپلې سيمې يوه ونه رسم کړي.



لومړی انځور



دويم انځور

کورنۍ دنده




زده کوونکي دې اړوند فعالیت د رنګونو په واسطه بشپړ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۶ لوست دهندسي شکلونو رسمول

موخه: زده کوونکي به د هندسي شکلونو له کمپوز (ترکیب)، لریوالي او نژدیوالي سره بلدتیا پیدا کړي.


پوښتنې:
- آیا له هندسي شکلونو سره مو مخکې بلدتیا در لوده؟
- ولې هندسي شکلونه رسموو؟



دویم انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیت: زده کوونکي دې په ډلو کې د لاندې انځورونو د رسمولو پر وخت لریوالي او نژدیوالي ته پاملرنه وکړي. وروسته دې د ښوونکي په مرسته د رسمولو او پرداز لارې چارې زده کړي.



لومړی انځور

کورنۍ دنده




زده کوونکي دې په فعالیت کې ورکړل شوي انځورونه په ځانګړې پاملرنې سره رسم کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوست ۱۷ د تخنيکي او هندسي شکلونو رسمول

موخه: د پنسل په واسطه پر نريو خطونو د هندسي او تخنيکي شکلونو له رسمولو سره د زده کوونکو بلدتيا.

پوښتنې:
- کوم هندسي شکلونه مو تر اوسه رسم کړي دي؟
- آيا تاسو کله هندسي او تخنيکي شکلونه رسم کړي دي؟




دريم انځور


(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیت

زده کوونکي دې لاندې شکلونه سکیچ کړي. له ډاډ وروسته کولای شي له خپلې خوښې سره سم یې رنګ کړي.



لومړی انځور



دویم انځور

کورنۍ دنده




یو هندسي شکل په کور کې رسم کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوست ۱۸ د نوښتګرو شکلونو یا انځورونو جوړول

موخه: له ساده سیمه ییزو توکو څخه د نوښتګرو شکلونو په اړوند له فکر کولو سره د زده کوونکو بلدتیا.

پوښتنې: • کله مو د نوښتګرو انځورونو د جوړولو په باب فکر کړی دی؟
• کولای شئ ووایئ چې نوښت څه ته وایي؟



دویم انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library


فعالیت

لاندې انځور ته په پاملرنې مو له فکر کولو وروسته د یو نوښتګر اثر په باب یو له بل سره نظرونه شریک کړي دي؟



لومړی انځور

کورنۍ دنده



زده کوونکي دې په کور کې په خپله خوښه یو ښکلی انځور وکاږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوست ۱۹ د پاڼو په واسطه د یوه نوښتګر انځور جوړول

موخه: له پاڼو څخه د یوه نوښتګر انځور له جوړولو سره د زده کوونکو بلدتیا.

پوښتنې: • آیا تاسې ویلای شئ چې لاندې انځور له څه شي جوړ شوی دی؟
• تر اوسه مو داسې نوښت کړی و؟



دویم انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیت: لاندې شکلونو ته په پاملرنې سره په خپله خوښه له پاڼو یو نوښتګر اثر جوړ کړئ او د پاڼو په رنګولو کې له مصنوعي رنګ څخه ګټه واخلئ.



لومړی انځور

کورنۍ دنده



په کور کې له سیمه ییزو توکو څخه د نوښتګرو کارونو د جوړولو په اړوند فکر وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوست ۲۰ له رنګ څخه د نوښتګر انځور جوړول

موخه: زده کوونکي به د کاغذ پر مخ د رنګ پر اچولو او د یوه نوښتګر اثر د جوړولو لپاره د کاغذ پر قات کولو وپوهیږي.

پوښتنې: • د یوه اثر د جوړولو په اړوند خپل فکر څرګند کړئ؟
• له نوښتګرو کارونو څخه څه خوند اخلئ؟



دریم انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیت: لومړی د کاغذ پر مخ یو مایع رنګ واچوئ، وروسته په مساوي ډول کاغذ قات کړئ، هغې ته د لاس د ورغوي په واسطه فشار ورکړئ، بیرته کاغذ خلاص کړئ، کوم نوښتګر انځور چې غواړئ، څرګندیږي.




لومړی انځور



دویم انځور

کورنۍ دنده



زده کوونکي دې په کورونو کې له خپلې خوښې سره سم پر یوه نوښتګر انځور کار وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوست ۲۱ د پاڼو ټاپه کاري

موخه: په ټاپه کاری کې له سیمه ییزو توکو څخه له ګټې اخیستنې سره د زده کوونکو بلدتیا.

پوښتنه: • د ټاپه کاری لپاره له کومو توکو استفاده کوئ؟



اووم انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیت

زده کوونکي دې د ګل یوه پاڼه واخلي، په هغه دې رنګ ووهي، وروسته دې له لاندې انځور سره سم د کاغذ پر مخ ټاپه کړي.



لومړی انځور



دویم انځور



خلورم انځور



دریم انځور



پنځم انځور

کورنۍ دنده



زده کوونکي دې په کورونو کې د خپلې کتابچې پُشتې ټاپه کاري کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوست ۲۲ د ډیزاینونو رسمول

موخه

د پنسل په واسطه له ډیزاینولو سره د زده کوونکو بلدتیا.

پوښتنې: • په ډیزاین شویو رسمونو کې څه شی وینئ؟

• تاسې په خپله سیمه کې ډیزاین شوي رسمونه لیدلي دي؟

دریم انځور


(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیت

زده کوونکي دې لاندې ډیزاینونه په روښانه خطونو سره جوړ، بیا دې د نرم پنسل په واسطه طرح او ډیزاین کړي.



لومړی انځور



دویم انځور

کورنۍ دنده




په کور کې په خپله خوښه یو لاسي کار ډیزاین کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۳ د لاسي کارونو جوړول

موخه: له رنګه مقوا کاغذ څخه د ډیزاین په طرح او د بیاتي په واسطه د هغه په پرې کولو د لاسي کار له جوړولو سره د زده کوونکو بلدتیا.

پوښتنې:
- کله مو له مقوا رنګه کاغذ څخه د ډیزاین په طرح، لاسي کار جوړ کړی دی؟
- ولې د لاسي کار ډیزاینونه جوړوو؟



دویم انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیت: زده کوونکي دې لومړی د کاغذ پر مخ ورکړل شوی ډیزاین طرح کړي، وروسته دې هغه د بیاتي په واسطه پرې کړي، بیا دې د سریښو په واسطه د بل کاغذ پر مخ سریښ کړي.



لومړی انځور

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په کورونو کې له ساده سیمه ییزو موادو څخه لاسي کار جوړ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوست ۲۴ د نوښتګر شکل جوړول

موخه

د نوښتګرو شکلونو له جوړولو سره د زده کوونکو بلدتیا.

پوښتنې:
- له کومو پاڼو نوښتګر شکلونه جوړوئ؟
- آیا د نوښتګرو شکلونو د جوړولو له لارو چارو سره بلدتیا لرئ؟



دویم انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیت: زده کوونکي دې د سیمه ییزو پانو د شکل په پام کې نیولو سره د وسایلو په واسطه، د ښوونکي له لارښوونې سره سم یو نوښتګر شکل جوړ کړي او د سریښو په واسطه دې پر بل کاغذ سریښ کړي.



لومړی انځور

کورنۍ دنده



له سیمه ییزو توکو څخه یو نوښتګر شکل جوړ او بیا یې رنګ کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوست ۲۵ د کور د لوښو رسمول

موخه: په نریو خطونو سره د کور د لوښو او لوازمو له رسمولو او پرداز سره د زده کوونکو بلدتیا.

پوښتنې: • کله مو دکور لوښي پر پنسل رسم کړي دي؟
• په لاندې انځورونو کې څه شی وینئ؟



دویم انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیت

لاندې انځورونه ترکیب او د پنسل په واسطه یې په نریو خطونو پړاو پر پړاو رسم کړئ، وروسته یې پر پنسل پرداز کړئ.



لومړی انځور

کورنۍ دنده



زده کوونکي دې پر پنسل د کور له لوښو څخه یو لوښی رسم او ټولګي ته دې راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوست ۳۶ د کور د لوښو رنګول

موخه
زده کوونکي به د کور د لوښو له رنګولو سره بلدتیا پیدا کړي.

پوښتنې: • لاندې لوښي په کوم ځای کې جوړیږي؟
• دا لوښي کوم رنګونه لري؟



دویم انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیت

زده کوونکي دې له پنسلي سکیچ وروسته لاندې انځور رنګ کړي، که په درسي ساعت کې بشپړ نشو، بیا دې په کور کې بشپړ کړي.



لومړی انځور

کورنۍ دنده




زده کوونکي دې د کتاب له مخې یو انځور رسم او ټولګي ته دې راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۷ لوست
د تاريخي اثارو رسمول

موخه: د تاريخي آثارو او ودانيو د رسمولو له طريقې سره د زده کوونکو بلدتيا.

پوښتنه: کله مو د هيواد تاريخي ودانۍ او آثار ليدلي او رسم کړي دي؟




دويم انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیت

زده کوونکي دې لومړی د تختې او کتاب له مخې شکل د پنسل پر نریو خطونو رسم او بیا دې پرداز کړي.



لومړی انځور

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د پورتني تاریخي څلي په اړوند له مور او پلار څخه پوښتنه وکړي، وروسته دې رسم کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوست ۲۸ د تاريخي ودانيو رنګول

موخه: زده کوونکي به د پنسل په نرېو خطونو د تاريخي ودانيو له رنګولو سره بلدتيا پيدا کړي.

پوښتنه: کله مو د هيواد کومه تاريخي ودانۍ رسم کړې ده؟




دويم انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیت

زده کوونکي دې د ښوونکي له لارښوونې سره سم لومړی لاندې شکل د پنسل پر نریو خطونو رسم، بیا دې رنګ کړي.



لومړی انځور

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې له خپلې خوښې سره سم یوه تاریخي ودانۍ پر پنسل رسم او بیا دې پرداز کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوست ۲۹ لاسي کار جوړول

موخه: له ساده سیمه ییزو توکو څخه د تاریخي اثارو له جوړولو سره د زده کوونکو بلدتیا.


پوښتنې: • تاسې ویلای شئ چې تاریخي ودانۍ له کومو موادو جوړې شوې دي؟
• کله مو له ساده سیمه ییزو موادو څخه د تاریخي ودانیو لاسي کار جوړ کړی دی؟



دویم انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیت: زده کوونکي دې پر څو ډلو وویشل شي، هره ډله دې د لاندې انځور په اړه له خپلې خوښې سره سم د لاسي کار جوړولو په اړوند فکر وکړي، هره ډله دې یو لاسي کار جوړ او د نندارې لپاره دې ټولګي ته راوړي.



لومړی انځور

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د محیطي ساده موادو څخه لاسي کار جوړ او په بله ورځ دې یې ټولګي ته راوړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوست ۳۰ د تاريخي آثارو رنګول

موخه

زده کوونکي به د مناروتو په رسمولو او رنګولو وپوهيږي.


پوښتنې: • ويلای شئ چې په مناروتو کې له کومو رنګونو ګټه اخيستل شوې ده؟
• په لاندې انځور کې څه شی ګورئ؟




دريم انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیت: زده کوونکي دې په څو ډلو ووېشل شي، هره ډله دې لاندې انځور ته په پاملرنې یو تاریخي منار سکیچ او بیادې رنګ کړي. هره ډله دې خپل کار، بلې ډلې ته ور وښیي، بیا دې په ټولګي کې نندارې ته وړاندې کړي.



دویم انځور



لومړی انځور

کورنۍ دنده

د کتاب له مخې یو تاریخي منار پر پنسل رسم او بیا یې ټولګي ته راوړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویمه برخه

درسامی هنر د تدریس لارښود

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوست ۱ (۱ او ۲) مخونه

د تدريس وخت (دوه درسي ساعتونه) **لومړی ساعت**

د لوست عنوان	د منې او ناک رسم	
عمومي موخې	پرپنسل باندې د منې او ناک د رسمولو له طريقې سره د زده کوونکو بلدتيا	
د زده کړې موخې - پوهنيزې - مهارتي - ذهنيتي	- زده کوونکي به د منې او ناک له رسمولو سره بلد شي. - زد کوونکي به د منې او ناک له رسمولو سره مينه پيدا کړي.	
د تدريس طريقه	ډله‌ييز او ځانګړي فعاليتونه، پوښتنې او ځوابونه، عملی کار او تمرين	
د تدريس وسيلې	کتاب، کتابچه،پنسل، پنسل پاک، تباشير، تخته پاک.	
ارزونه	د خپل ډاډ د ترلاسه کولو لپاره له زده کوونکو پوښتنې کوي.	
لومړني فعاليتونه	سلام او د يو بل له حال څخه ځان خبرول، حاضري اخيستل، د ټولګي تنظيم، د کورنۍ دندې کتل، د نوي کال مبارکي او د تېر کال له کتاب سره اړيکه.	۵ دقيقې
	انګيزوي پوښتنې تر اوسه مو کومه ميوه د پنسل په واسطه رسم کړې ده؟	۵ دقيقې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښوونکي فعالیتونه	وخت
د لوست په اړوند زده کوونکو ته لارښوونې وکړئ. • منه او ناک پر تختې رسم، بیا یې د پراوونو په باب زده کوونکو ته معلومات ورکړئ. • د منې او ناک رسمولو د وروستي پړاو په اړوند زده کوونکو ته معلومات ورکړئ. • د زده کوونکو د کارونو ارزونه وکړئ او بشپړ شوي کارونه یې د هڅونې لپاره په مناسب ځای کې خوندي کړئ.	۳۵ دقیقې

کورنی دنده

د کتاب له مخې د منې او ناک انځورونه پړاو پر پړاو په پنسل رسم او ټولګي ته یې راوړئ.

اضافي معلومات

ښاغلی ښوونکی د منې او ناک د رسمولو په اړوند زده کوونکو ته معلومات ورکړئ، هغوی د پوښتنو ځوابولو ته تیار کړئ، وروسته له پوښتنو سم ځوابونه ورکړئ، له خپلې خوښې سره سم د منې او ناک شکلونه پر پنسل رسم کړئ، د کار په لړ کې هغوی ته لارښوونه وکړئ، د داخلي او خارجي خطونو د رسمولو پر وخت یې له نریو پیل بیایې د پنډو خواته رسم کړئ. د منې او ناک د ساده رسمولو لپاره لومړی هغه په یوه چوکاټ کې په ساده خطونو پر تختې رسم کړئ، وروسته کولای شئ چې د منې او ناک شکلونو پرداز له ضعیف څخه د قوي او له روښانه پلو څخه د تیارې خواته وروښیئ چې زده کوونکي وکولای شي ستاسو له لارښوونې سره سم هغه په کتابچو کې رسم کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوست ۵ (۹ او ۱۰)مخونه

د تدريس وخت (دوه درسي ساعتونه) **لومړی ساعت**

د لوست عنوان	د سبو رنګول	
عمومي موخې	د سبو له رسمولو او رنګولو سره د زده کوونکو بلدتیا.	
د زده کړې موخې - پوهنیزې - مهارتي - ذهنیتي	- زده کوونکي به د سبو رسمولو او رنګولو لارې چارې زده کړي. - زده کوونکي به سابه رسم او رنګ کړای شي. - زده کوونکي به د سبو له رسمولو او رنګولو سره مینه پیدا کړي	
د تدریس طریقه	ډله‌ییز او یو کسیز فعالیتونه، پوښتنې او ځوابونه، عملي کار او تمرین	
د تدریس وسیلې	کتاب، کتابچه، پنسل، پنسل پاک، تباشیر او تخته پاک.	
ارزونه	ښوونکی د ډاډ تر لاسه کولو په موخه له زده کوونکو پوښتنې کوي.	
لومړني فعالیتونه	سلام، احوال پوښتنه، د ټولګي تنظیم، د حاضرۍ اخیستل، د تېر لوست یادونه اوله نوي لوست سره ارتباط ورکول.	۵ دقیقې
	انګیزوي پوښتنې کله مو سابه رسم او رنګ کړي دي؟	۵ دقیقې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښوونکي فعالیتونه	وخت
• زده کوونکو ته د لوست په اړه معلومات ورکړئ. • د کتاب له مخې پر تختې د سبو رسمول زده کوونکو ته ور وښیئ. • زده کوونکوته معلومات ورکړئ. • د زده کوونکو پوښتنو ته ځوابونه ووایئ. • کارونه یې اصلاح او و ارزوئ.	۳۵ دقیقې

کورنی دنده

دکتاب د انځور رسم ته پاملرنه وکړئ، وروسته یې رسم او رنګ کړئ؟

اضافي معلومات

ښاغلی ښوونکی دې د خامو او پخو سبو خوړلو او کارونې په اړه زده کوونکو ته معلومات ورکړي. وروسته دې د سبو انځورونه پر تختې ښل ښل رسم کړي. بیا دې زده کوونکي پر خو ډلو وویشي. هره ډله دې انځور او فعالیت ته په پاملرنې سره پر هغه کار وکړي، یوه ډله دې خپل کارونه نورو ډلو ته ورکړي.

ښوونکی دې د زده کوونکو څارنه وکړي، هغوی ته دې لارښوونه وکړي چې وکولای شي د سبو شکلونه پر پنسل رسم کړي. له بشپړیدو وروسته دې د ترکیب په اړوند ور سره مرسته وکړي، و دې ګوري چې تر کومې اندازې هغوی په فکر کولو او د مفکورې په رامنځ ته کولو کې ورته والی لري.

د مثال په توګه آیا هغوی د رنګونو په اړوند معلومات ورکولای شي؟

ایا د ستونزو په هوارولو کې یو له بل سره مشوره کوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوست ۱۰ (۱۹ او ۲۰) مخونه

د تدريس وخت (دوه درسي ساعتونه) **لومړی ساعت**

د لوست عنوان	د آس د پښو رسمول	
عمومي موخې	زده کوونکي به له بېلا بېلو زاويو څخه د آس د پښو په رسمولو وپوهيږي.	
- د زده کړې موخې - پوهنيزې - مهارتي - ذهنيتي	- زده کوونکي به له بېلا بېلو زاويو څخه د آس د پښو په رسمولو وپوهيږي. - زده کوونکي به د آس د پښو حرکت په سم ډول رسم کړای شي. - زده کوونکي به له بېلا بېلو زاويو څخه د آس د پښو له رسمولو سره مينه پيدا کړي.	
د تدريس طريقه	ډله‌ييز او څانګړي فعاليتونه، پوښتنې او ځوابونه، عملی کار او تمرين	
د تدريس وسيلې	د هنرکتاب، کتابچه، پنسل، پنسل پاک، تباشير، تخته پاک، پنسل تراش	
ارزونه	ښوونکی د ډاډ ترلاسه کولو په موخه له زده کوونکو پوښتنې کوي.	
لومړني فعاليتونه	سلام، احوال پوښتنه، د ټولګي تنظيم، د حاضرۍ اخيستل، د کورنۍ دندې کتل، تېر لوست ته په کتنې په نوي لوست پيل کوي.	۵ دقيقې
	انګيزوي پوښتنې کله مو د آس پښې له نژدې ليدلې او رسم کړې دي؟	۵ دقيقې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښوونکي فعاليتونه	وخت
• د لوست په اړوند زده کوونکو ته معلومات ورکړئ. • د کتاب له مخې د آس پښې پر تختې رسم کړئ. • د زده کوونکو پوښتنو ته پاملرنه او سم ځواب ورکړئ. • زده کوونکو ته لارښوونه وکړئ چې د درسي کتابونو له مخې د آس د پښو حرکتونه رسم کړي. • کارونه يې و ارزوئ.	۳۵ دقيقې

کورنی دنده

د کتا ب له مخې دآس د پښو حرکت په ژورې پاملرنې سره په کتابچو کې رسم کړئ.

اضافي معلومات

د رسامی د هنر په زده کړه کې ګټورې لارې او طريقې:

الف د درناوي د فضا رامنځ ته کول، په ټولګي کې د صداقت، صميميت رامنځ ته کول.

۱. هر سړی بايد احساس کړي چې د خپل ټولګي يو مهم غړی دی.
۲. د زده کوونکو پر ځان د باور پيدا کول اړين دي.
۳. د ستونزو په حل کې زده کوونکوته نوبت ور کول.
٤. د زده کوونکو اختلافاتو ته پاملرنه.
٥. د متقابلې همکاری د روحيې رامنځ ته کول.
٦. د زده کوونکو په هر نوښتګر کار کې يوه ښېګڼه شته، له دې امله بايد د هيڅا کار ته کم و نه کتل شي.
۷. د زده کوونکو د نوښتګرو کارونو د ستاينې په موخه هغه نداري ته وړاندې کول ډير هڅوونکي دي.
۸. هڅه دې وشي چې زده کوونکو ته د دوی له عمر سره سمې دندې وسپارل شي.
۹. زده کوونکي دې د رسامی لپاره وهڅول شي، نه چې اړ شي.
۱۰. هيڅکله هم د يوه زده کوونکي کار بل ته د سيالی په توګه مه وړاندې کوئ.
۱۱. له يوه زده کوونکي سره د بل زده کوونکي کار مقايسه کول ښه نه دی.

ښاغلی ښوونکی، په دې کتاب کې د نورو لوستونو لپاره د تدريس د لارښود له ليکلو څخه ډډه شوې ده. کولای شئ له دې لارښود څخه د ټولو لوستونو په تدريس کې ګټه واخلئ.

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library